ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.6 No.1 2022

# د حمزه بابا په ناول "نوې چپې" کښې شامل سياسي ګوندونه : يوه تجزيه

# Analysis of Political Parties Included in Hamza Baba Novel “Nave Chapi”

Muhammad Anwar Khan[1]

Ph.D scholar Department of Pashto, University of malakand.

Dr. Badshah.i.Room [2]

Associate Professor Department of Pashto, University of malakand.

Abstract:

*Hamza Baba novel “Nave Chape” is a noteworthy endeavor in fiction of Pashto. Though mostly literary circles remembering Hamza Baba as great poet but indeed, his prose contribution is too high as the peak of TATARA. In the under discussion piece is, Hamza Baba written single novel, which surrounding his theme of life and political philosophy. The main idea of the novel is a debate on the political situation just after the partition of sub-continent. As philosophical mind, Hamza Baba not only dig ousted the root causes of political instability and depriving of Pashtoon but the same time presented a solution to such issue, with such concrete arguments, which may be acceptable to all school of thought.*

*In this paper I will analyze the political parties brought under the discussion in said novel. This will help in understanding the history and manifesto of included political parties. At the same time this will make enable the public to understand how to influence on party leadership for needed modification, keeping in view the current circumstances.*

**Key Words:** Political Party, Congress, Khudai Khidmatgar, Muslim League, Ahrar, Khaksar

اميرحمزه خان شينواري د يو منلي شاعر سره سره د معيار او مقدار دواړه له رويه يو کوټلے نثر نګار دے او د خپل قلم غمي د پښتو ډرامې، سفرنامې، مکتوبات نګارۍ او ناول نګارۍ په ميدان کښې په ډېر هنر سره پاشلي دي۔ حمزه بابا د ژوند په حواله يو ځانګړې فلسفه لره، هم دغه د خپل چاپېريال په کوز او پاس يې ژور نظر وو ۔ هم د فسلفه حيات يې په خپل ناول کښې په ښکلي فنکارانه انداز کښې وړاندې کړې ده۔ دا ښاغلے د دې منطقي سياسي ګوندونو ته په يو خاص تمقيدي نظر ګوري او غواړي

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.6 No.1 2022

چې دوي چې دخپلې اصلاح په ذريعه د خپلواکۍ ناوې ته لار جوړه کړي. په دې مقاله د هغه جماعتونو او تنظيمونو چې حمزه بابا په خپل ناول کښې راوړي دي، تعارف او تجزيه وړاندې کوؤ

د کانګريس، خدايي خدمات ګار تحريک، مسلم ليګ، خاکسار تحريک او احرار د کار او کردار په حقله د کردارونو په خله بشپړه مکالمه کوي او په دغه کردارونو کښې د هر مکتبه فکر پېروکار له موقع ورکوي چې خپل مؤقف ډاګې ته کړي او د بل ګوند فکر د تنقيد په تله وتلي. په دې کښې ليکوال په پوره توګه کامياب شوے دے او په دا ډول يې بېلابېل ذهنونه په يو مزي کښې د پېرلو کاميابه هڅه کړې ده. مناسب به دا وي چې په دې ناول کښې کوم ګوندونه او تنظيمونه د بحث لاندې راوستلي شوي دي، په سر کښې د هغو يوه لنډه پېژندګلو وړاندې کړو چې وروسته په تجزيه او نتيجه اخذ کولو کښې اساني پېدا شي.

- خدايي خدمتګار تنظيم:

د خدايي خدمتګار تنظيم د قيام د مخې باچاخان او د هغه هم فکره ملګرو د تعليم عام کولو په غرض د ازاد مکتبونو د پرانستلو لړۍ پېل کړې وه او د پښتنود اصلاح په نيت يې د انجمن الافاغنه په نوم د يو سازمان بنسټ هم ايښے وو، په دې حواله باچا خان په خپل ژوند ليک کښې داسې ليکي.

> " مونږ په ۱۹۲۱ع کال کښې د دوستانو په امداد په اتمانزو کښې د ازاد سکول بنياد کېښوده چې په دې سکول کښې قاضي عطاالله، ميا حامد شاه، حاجي عبدالغفارخان، محمد عباس خان، عبدالاکبرخان اکبر، تاج محمد خان، عبدالله شاه او خادم محمداکبر زما ملګري وو . د مدرسې ترڅنګ مونږ د پښتنو د غلطو رسمونو او رواجونو د اصلاح کولو، د تشدد د منع کولو او په کښې سد قامولۍ د مينې او محبت پېدا کولو په غرض د اصلاح الافاغنه په نامه يو انجمن جوړ کړے ؤ " .[1]

د انجمن اصلاح الافاغنه د نوم نه ښکاره ده چې د دې قيام د پښتنو اصلاح کول وو . په دې حواله مونږ ته د تاريخي اثر " باچا خان او خدائي خدمتګاري" نه د دې انجمن مقصدونه لا په ډاګه کېږي.

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.6 No.1 2022

" د انجمن اصلاح الافاغنه" په نامه ئې د يوې ډلې بنياد کېښود ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ چې دوي به د پښتنو بچو له د تعليم ورکولو د پاره کوشش کوي ۔ د پښتنو د معاشرې د اصلاح او د هغوي ترمنځه دښمنۍ لرې کول، هغوي کښې اتفاق او ورورولي پېدا کول د دې انجمن غرض ؤ"۔ [2]

انجمن اصلاح الافاغنه په پښتنو کښې د غلطو رسمونو رواجونو د اصلاح او د دوي پام کار روزګار، تعليم او محنت د راړولو لپاره زيار باسلو او په خپل دې مشن کښې ښه برياليي هم وو ۔ خو په دغه دور کښې د فېرنګيانو پرضد مبارزه دوام داره او د هندوستان او د دې د اولس د راتلونکي لپاره د کار او فېصلې وخت وو، ځکه نو يواځې په اصلاحي کار همه ګير مقصدونه ترلاسه کېدل ممکن نۀ وو او دغه وخت وو چې پښتانۀ دې د سياسي لارې نه خپل مستقبل محفوظ کړي۔ د دې غرض د پاره د يو سياسي تنظيم ضرورت احساسېدۀ ۔ دغه د ضرورت پوره کولو ته عبدالولي په خپل ليک کښې د " معاشرې د اصلاح نه سياست ته" سرنامه ورکوي او داسې ليکي:

" دا خو د پښتنو اندروني کمزورۍ وې ۔ دا خو د دوي د معاشرې نيګړتياوې وې۔ اوس لږ باچا خان د هغه لوړ او اوچت مقصد پاټکي ته لاس واچولو او د پښتون قام د يو والي او اتحاد اړخ ته ئې مخه شوله"۔ [3]

دغه حالات او پس منظر د باچا خان په ژوند ليک " زما ژوند او جدوجهد" کښې داسې بيان شوے دي۔

" په دسمبر ۱۹۲۹ع کښې په لاهور کښې د کانګرس سالانه جلسه وه او چونکه لاهور صوبه سرحد ته ډېر نزدې و، په دې وجه د صوبه سرحد ډېر خلک د کانګرس د جلسې د ليدو له پاره لاړل۔ ما او امير ممتاز خان، زمونږ د ازاد سکول هېډماسټر د تللو اراده وکړه ۔ مونږ کانګرس کښې نۀ وو، مونږ خو خلافت کښې وو او مونږ تماشې له تللي وو ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ مونږ د سرحد نه تللي ټول ملګري هلته راجمع شو ما ورته ووې چې سړي خو پرېږده د هندوانو ښځې هم بېدارې شوي دي او د ملک ابادۍ ته يې ملاتړلې ده۔ په

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.6 No.1 2022

پښتون د ښځو ډېر اثر کېږي، د دې خبرې په هر يو ډېر اثر وشو او هرسړے چې
لاهور ته تللے وو، نو په زړه کښې د قام او وطن احساس پېدا شوې و"۔ [4]

دا خو هغه شالید او تجربه وه چې پښتنو د یو رایو کیدو او غړ پورته کولو لپاره احساس کړه۔ په دې کښې یوه دا نکته هم د غور قابل ده چې ګرځېدل، نور خلک لیدل او اورېدل د بدلون لپاره یوه پوړۍ وي، ګنې که پښتنانۀ لاهور نۀ تللے او د نورو قامونو د کار او زیار مشاهده یې نۀ کولې نو دا د تنظیم کېدلو او د خپلواکۍ په لړ کښې د ملاتړلو ته به څنګه چمتو کېدل؟۔ کله چې باچا خان او د هغه ملګري د د لاهور د جلسې نه د یو فکر او عزم سره راستانۀ شي نو د بل ګام اخستلو احوال په دې ډول بیانوي۔

" مونږ چې د لاهور نه راواپس شو نو په اتمانزو کښې مو لویه جلسه وکړه،
زه په جلسه کښې راپاڅېدم او خلکو ته مې ووې، چې تاسو خو اوده یې او
سړي څه کوي، چې د هندوانو ښځې هم رابېدارې شوي او هغوي سړو سره
یو ځائے د ملک د ازادۍ د پاره ملا تړلې ده او جدوجهد کوي۔ تاسو لږ لم
خاتۀ ته وګورئ څومره لوي سېلاب راروان دے او سېلابونه همېشه اوده
قامونه وړي۔ ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ او هندوان وايي چې دلته به بادشاهي مونږ
کوو او مسلمانان د غفلت په خوب اودۀ دي، نو اے پښتنو وروڼو زه
ستاسونه پوښتنه کوم چې تاسو به څه کوئ، ناست به يې او دواړو ته به دعا
کوئ او د غلامۍ او پېتتي توب ژوند به تېروئ"۔ [5]

هم دا هغه خیال، تجربه، مشاهدې ، جذبه او فکر وو چې د هغې په بنیاد د خدايي خدمت ګار تنظیم بنسټ کښېخودے شو او د پښتنو د رایوکولو او یو سیاسي طاقت جوړلو هڅې پېل شوې ۔

" بیا مونږ کېناستو او په دې خبره مو غور کولو چې د دې نوي جماعت نوم دې
څه وي۔ زما دا خیال و، چې په دې پښتون کښې د خدمت خیال نشته، په دې
جماعت مونږ يو داسې نوم کېږدو چې د پښتنو په دماغ کښې د خدا ے د پاره د
خدمت خیال پېدا شي، قسم قسم نومونه پېش شول خو زمونږ خوښ نۀ شول، د

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.6 No.1 2022

شپې زما په زړه کښې د خدايي خدمتګار نوم راغے۔ چې صبا له دوي راغلل نو ما ورته دا نوم وړاندې کړ، د دوي هم خوښ شو او دعا د خېر پرې وشوه"۔[6]

د برني تمهيد او حوالو نه معلومه شوه چې د خدايي خدمتګار جماعت خيال باچاخان او د هغه ملګرو په لاهور کښې د کانګرس د جلسې نه اخستے وو او دغه د دسمبر مياشت او کال ۱۹۲۹ع وو۔ دا جماعت خالص د مخلوق د ښېګړې په نيت جوړ کړے شوے وو چې مهم مرام يې د پښتنو د پاره د هندوستان د وېش په آوان د دوي حقونه خوندي کول وو۔

د خدايي خدمتګار د رکنيت او ملتيا د پاره هم شرطونه وضع کړے شول چې هر وګړے به خپلې ذاتي تربګنئ پرېږدي، خدا ے ته د خدمت ضرورت نشته نو د خدا ے خدمت دا دے چې د مخلوق خدمت به کول وي يعنې د خپل کار روزګار سره به د اولسي خېرښېګړې د پاره به د خدائي خدمتګار غړے په باقاعده توګه وخت وباسي۔ د خدايي خدمتګار هر غړے به بې ځايه رسمونه رواجونه پرېږدي او د محنت د عادت خپلولو په غرض به په ورځ کښې دوه ګېنټې د خپلو لاسو محنت کوي او د ټولو نه اهم شرط دا چې د دې جماعت غړے به په عدم تشدد يقين لري او د تشدد نه به ځنډه کوي کوم چې د پښتنو کور وران کړے دے۔

دا د خدائي خدمتګار جماعت يوه اجمالي خاکه وه چې دوي په کومو حالاتو کښې د کومو مقصدونو د لاس ته راوړنې د پاره په وجود کښې راغلل او هم د دغه تنظيم د بېرغ د لاندې په دې سيمه کښې پښتنو د ازادۍ او خپلواکۍ د پاره يوه تاريخي مبارزه وکړله۔د ناول " نوې چپې" د فکري مطالعې په آوان به د دوي د فکر، نظر، کار او زيار په اړه پوره اندازه وشي۔

❖ خاکسار تحريک:

کله چې د "نوې چپې" ناول کښې په څلورم باب کښې سياسي بحث شروع کېږي نو ابتداء يې د خاکسار تحريک په حواله د يو کردار اکبرخان په خاکسار تحريک کښې د سالارۍ د خبر نه وشي او بيا په دغه حواله خبره په مخښکې ځي۔ بيا وروسته هم د خاکسار تحريک ذکر په لاهور ښار کښې د د پرتشدد احتجاج کولو په ضمن کښې کېږي۔ ځکه نو ضروري ده چې د دې تحريک په حواله بنيادي معلومات راوړلے شي۔

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.6 No.1 2022

"The Khaksar movement was a social movement based in Lahore, Punjab, British India, established by Inayatullah Khan Mashriqi in 1931, with the aim of freeing India from the rule of the British empire".[7]

ژباړه: خاکسار تحریک یو ټولنیز غورځنګ وو چې مرکز یې په برطانوي انډیا کښې په لاهور بنجاب کښې وو او دا عنایت الله خان مشرقي په کال ۱۹۳۱ء کښې قائم کړے وو ـ د دې تحریک مقصد د برطانوي سلطنت د پنجو نه د انډیا ازادول وو ـ

خاکسار تحریک د خپل وخت یو ښه منلے قوت وو، ښه موثر سیاسي کرادر ئې لوبولے دے او تاریخ دوي د یو کوټلي سیاسي طاقت په توګه یاد ساتي ـ په دې حواله اوبټنس کمار په خپل یو مضمون کښې لیکي:

"The Khaksar was one of the most prominent Muslims movements of the undivided India in the 1930s. The movement, based on the grassroots mobilization, was primarily concerned with the social and religious interests of the Muslims. It provided The movement a new dimension in Muslim mobilization in India. became a significant political force before fizzling into oblivion in the early 1940s. [8]

ژباړه: خاکسار په ناوېشلې انډیا کښې د مسلمانانو په تحریکونو کښې یو ډېر ښکاره تحریک وو ـ دا تحریک په بنیادي کچ د اولس د متحرک کولو او د هغوي د ټولنیزو او مذهبي ګټو سره اړه وو ـ دې تحریک د مسلمانانو پاڅون له یو نوے رخ ورکړو ـ دا غورځنګ د کال ۱۹۴۰ء په وړومبو کښې د تغافل او ماتې نه وړاندې یو مهم سیاسي طاقت ګرځېدلے وو ـ

د خاکسار تحریک د ارزښت او د ازادۍ د پاره د منډو تړړو او قربانو نه انکار نۀ شي کېدے خو د دوي یو بل مخ هم دلته ښودل غواړي، کوم چې هغه جماعتونو چا چې په عدم تشدد یقین لرلو لکه کانګرس او خدایي خدمتګار تحریک، دوي د خاکاسار تحریک په کار او کردار نیوکړي کړي دي او تر دې حده چې دوي یې د فېرنګي د ملګرتیا د پاره هم تیار یاد کړي دي ـ په دې خان عبدالولي خان داسې لیکي:

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.6 No.1 2022

"د دې نه هم عجيبه پوزيشن د خاکسارو ؤ ۔ په دې نورو مسلمانانو خو دا اعتراض وو چې دوي د پېرنګي سره مرسته نۀ کوي، ولې خاکسارو خو د امداد پېشکش هم کړے دے۔ لکه چې وائسراے په 24-05-1940 کښې ليکي:

"Meanwhile the Khaksars have formally renewed their offer to me of 50,000 men to help in war"[9]

دا خو د خاکسار تحريک يوه لنډه پېژندګلو په دې غرض وه چې وروسته د مطالعې په اوان د دوي بنيادي معلومات زمونږ په ذهن کښې وي، ګنې کۀ داسې تفصيل وړاندې کوؤ او د هر يو بيان بيا تنقيدي جاج اخلو نو خبره ډېر طوالت مومي او دغه زمونږ بنيادي موضوع هم نۀ ده۔

❖ کانګرېس:

کانګرېس د هندوستان يو نمائنده جماعت وو چې په کوم کښې د هرمذهب او طبقې خلک شامل وو۔ ترڅو چې مسلم ليګ په وجود کښې نۀ وو راغلے نو مسلمانان هم زياتره د کانګرس برخه وه ۔ دا سپيناوے هم دلته پکار دے چې مسلم ليګ د قيام نه پس هم يو پوره شمېر مسلمانان چې د کانګرېس ملګري وو، ملګري پاتې شول۔

"Though some Muslim leaders joined the Congress, the Muslim as a community aloof from it. The reasons are not far to seek. The interest of the Muslims at the hands of the Hindu majority Congress was not safe and secure. That was why, Sir Syed Ahmad Khan asked his fellow-Muslims not take part in the Indian National Congress".[10]

ژباړه: ګرچې ځينې مسلمانانو مشرانو هم کانګرس کښې ګډون کړے وو خو مسلمانان د يوې طبقې په توګه د دې نه جدا وو۔ د دې وجوهات ښکاره وو چې د مسلمانانو ګټې د هندوانو په لاس کښې خوندي نۀ وې۔ ځکه خو سر سيد احمد خان خپلو مسلمانانو ملګرو ته ووئيل چې په انډين نېشنل کانګرېس کښې برخه وا نۀ خلئ۔

"Accordingly the plan of A.O Hume was taken up by some prominent Indians and the Indian National Congress was

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.6 No.1 2022

established in Bombay during Christmas week, 1885. Its first meeting was held in Bombay under the presidency of Mr. W.C Banerjee, a prominent Bengali barrister. Out of seventy-two delegates attending the meeting, there only two Muslims”.[11]

ژباړه: د اے۔او هیوم د منصوبې ترمخه د هندوستان څو نوموړو د کرسمس په اوونۍ، کال ۱۸۸۵ء کښې د انډین نېشنل کانګرېس بنیاد کښېخودے شو۔ د دې په وړومبي غونډه کومه چې په بمبۍ کښې د یو نامتو بنګالي برسټر مسټر ډبلیو۔سي بېنرجي په صدارت کښې وشو۔ کومو دوه اویا جرګو چې په دې غونډه کښې ګډون کړے وو، په هغې کښې فقط دوه د مسلمانانو وې۔

د کانګرېس غټ مقصد د هند د ټولو طبقو په نمائندګۍ د انګرېز نه ازادي ترلاسه کول وو او د دې د پاره ذکر جماعت یوه اوږده مبارزه وکړهٔ او په دا ډول یې په هندوستان کښې اولسواکي ترلاسه کړه۔

❖ مسلم لیګ:

څنګه چې د کانګرس په حواله د مطالعې نه معلومه شوه چې سرسید احمد خان مسلمانانو ته کانګرس نه د لرې اوسېدو وئیلي وو نو د دوي په ذهن کښې د مسلمانانو د یو ځانله جماعت جوړولو خاکه د وړاندې نه موجود وه۔

“Sayyid Ahmad advised the Muslims to keep away from the Indian National Congress and founded the Muhammedan Educational Conference as a Muslim alternative to the Congress in 1886”. [12]

ژباړه: سیّد احمد مسلمانانو ته هدایت ورکړے وو چې د انډین نېشنل کانګرېس نه لرې اوسئ او د کانګرېس د متبادل په توګه یې په کال ۱۸۸۶ء کښې محمډن اېجوکېشنل کانفرنس قائم کړو۔

څنګه چې یې د نوم نه هم ښکاره ده، مسلم لیګ په ناویشلي هند کښې د د مسلمانانو د نمائندګۍ په غرض په وجود کښې راغلے وو، ګرچې د فېرنګي ښکېلاک نه د ازادۍ د پاره مسلمانانو او د هند نورو قامونو ګډه مبارزه پېل کړې وه خو وروسته مسلمانانو د دې وېرې له یرې چې هسې نهٔ، د انګرېز د غلامۍ زنځیر د هندوانو په لاس کښې ور شي او مسلمانان پکښې وهٔ نهٔ تړي، خپله سیاسي تګلاره خپله کړه۔

"At last, it was decided that a representatives organization would be formed, whereupon the leaders of Muslim India met at Dacca in December 1906 on the occasion of Muslim Education Conference. In the meeting that took place at Shahbag Dacca under the presidency of Nawab Vikarul Mulk, Sir Salimullah, the Nawab of Dacca proposed the formation of Muslim League and it was supported by Hakim Ajmal Khan, Maulana Zafar Ali Khan, Shah Abdullah and Maulana Muhammad Ali.[13]

ژباړه: اخر دا پرېکړه اوشوه چې يوه نمائنده تنظيم دې جوړ کړے شي، د کوم د پاره چې په دسمبر کال ۱۹۰۶ء کښې په ډهاکه کښې د مسلم ايجوکېشن کانفرنس په موقع غونډه وشوه. په دغه غونډه چې په شاه بېګ ډهاکه کښې د نواب وقارالملک او سر سليم الله په صدارت کښې وشوه، د ډهاکې نواب د مسلم ليګ د جوړولو تجويز وړاندې کړو، د کوم تائيد چې حکيم اجمل خان، مولانا ظفر علي خان، شاه عبدالله او مولانا محمد علي وکړو.

دلته دا يوه خبره په پام کښې نيول غواړي چې د مسلم ليګ بنسټ په کال ۱۹۰۶ء کښې ايښودے شوے وو خو د ډېرې مودې پورې دې ګوند هغه زور نۀ وو بيامونده کوم چې د سياسي اثر د پاره پکار وو.

"What was the state of the Muslim League before Jinnah undertook its reorganization? In 1927, the total membership of the Muslim League was 1330. During 1931-3 , its annual expenditure did not exceed Rs 3,000. In the 1930 Allahabad session, when Sir Muhammad Iqbal presented his historic address, demanding the establishment of the North-Western Muslim state in India, the League did not have its quorum of 75 members".[14]

ژباړه: دا سوال چې کله جناح د مسلم ليګ د دوباره تنظيم ذمه واري واخسته نو د دې حېثيت څۀ وو؟ په کال ۱۹۲۷ء کښې د دوي ټول ممبران ديارلس سوه، دېرش وو. د نولس سوه يو دېرش او درې دېرش په مېنځنۍ دوره کښې د دې ګوند د کال خرڅ د درې زره روپو نه زيات نۀ وو. په کال ۱۹۳۰ء، د اله اباد په اجتماع کښې ، په کوم کښې چې سر علامه محمد اقبال تاريخي خطبه ورکړې وه او په هغې کښې

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.6 No.1 2022

يې په هند کښې د سوېلي ـ لوېديځ -مسلم رياست غوښتنه کړې وه، د ليګ د خپل بنيادي پېنځه اويا ممبرانو لړ تر لړه مطلوبه شمېر هم پوره نۀ وو ـ

د دې حوالې د راوړو مقصد دا وو چې مسلم ليګ نژدې نژدې د کال ۱۹۴۰ء پورې د هندوستان په سياست کښې دومره مقبول نۀ وو او تردغه وخته کانګرېس د انډيا د زياتره طبقو او خدائي خدمتګار تنظيم د پښتنو نمائندګي کوله ، چې بيا وروسته مسلم ليګ د " دو قومی نظريه" په بنياد خپل سياست مقبول او قبول کړو ـ

د مسلم ليګ په ټاکلو ښکاره مقصدونو کښې د مسلمانانو او برطانوي سرکار ترمېنځه د غلط فهمو خاتمه، د مسلمانانو د حقونو ساتنه او ګټو پالنه او د هندوستان د نورو طبقو سره د ښه تعلق جوړول شامل وو ـ

> "The Muslim League was thus founded with the object of promoting the loyalty of Muslims to the British Government and safeguarding their political and other rights".[15]

ژباړه: مسلم ليګ د برطانوي سرکار سره د وفادارۍ زياتولو او د مسلمانانو د سياسي او نورو حقونو د خوندي کولو په غرض جوړ کړے شو ـ

❖ احرار:

مجلس احرار چې په معروفه توګه ورته احرار وئيلے شي، هم د حمزه بابا په ناول " نوې چپې" کښې ياد شوے دے ـ يوه بد مرغي دا هم ده چې د احرار تنظيم د خپل لټرېچر نه پرته د تاريخ په کتابونو کښې د دې په اړه هغه تفصيل او جزياتو سره ذکر نشته، کوم چې پکار وو ـ ګرچې په ناول " نوې چپې" کښې يې د کوم کردار په توګه نمائندګي نشته خو په ذکر کېدلو سره پکار ده چې لنډه پېژندګلو يې وړاندې کړے شي ـ

احرار د هندوستان يو داسې مذهبي سياسي جماعت وو چې ورته د بې مثله خطيب مولانا عطا الله شاه بخاري او مولانا عبدالرحمن لکهنوي د مشرۍ سعادت حاصل وو او د هغوي په وياړلې مشرۍ کښې

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.6 No.1 2022

دوي د هندوستان په سیاست کښې یو مقام جوړ کړے وو ـ د دې جماعت د ابتداء او ارتقا په حواله ماته تاریخ پوهه مولانا خانزیب په یوه ځانګړې مرکه کښې داسې ووئیل:

" د مجلس احرار باقاعده بنسټ په کال ۱۹۲۹ء کښې د راوي د سیند په غاړه کښېښخودے شو ـ هم په دغه دوي د نهرو رپورټ یا د هندوستان د نیمچه ازادۍ منصوبه په علامتي توګه د راوي سیند ته وغورزوله ـ د احرار دا غوښتنه وه چې هندوستان به ټول په ټوله ازادیږي، مونږ پوره خپلواکي غواړو، د دوي د کال ۱۹۴۹ ء پورې د هندوستان په ازادۍ کښې ښه مهم رول ترسره کړو" [16]

کله چې ما د مولانا خانزیب نه د احرار تنظیم د منشور او د هندوستان د وېش نه وروسته د دوي د کار او راتلونکي په اړه اوپوښتل نو د هغوي جواب داسې وو ـ

" د احرار منشور د هندوستان پوره په پوره ازادي او د معاشي مساواتو نعره وه ـ دوي یوه سامراج دښمنه ډله وه او مذهبي انقلابي ذهنونه پکښې را یؤ شوي وو خو ترځنګ یې د کار ډول د عدم تشدد په فلسفه ولاړ وو ـ ترڅو چې د وېش نه وروسته د دوي تاریخ دے نو د کال ۱۹۴۹ء نه پس احرار په خپل ځائے یو مزهبي تنظیم پاتې شو خو سیاسي هلې ځلې یې پرېښخودې ـ دوي د تحفظ ختم نبوت لپاره خپلو منډو ترړو ته دوام ورکړو او د مجلس احرار او مجلس عالمي تحفظ نبوت د تنظیمونو په ذریعه د ختم نبوت او اسلامي نظام د نفاذ د پاره کار کوي" ـ [17]

په " نوې چپې" ناول کښې په احرار تنظیم باندې د یو کردار اکبرخان په ژبه، په دې ټکو کښې نیوکړه شوې ده چې دوي د متحده هندوستان او د پوره ازادۍ خبره کوي یعنې د کانګرس د نظر پلوي دے، نو دا هم لکه چې د کانګرس بل مخ دے ـ

سلیم: " خبر احرار وا خله"

اکبرخان: " هغه هم درست نۀ وائي ـ احرار د کانګرس د تصویر دویم اړخ دے ـ [18]

## حوالي:

1 ـ عبدالغفار خان (باچا خان)، زما ژوند او جدوجهد، دانش خپرندويه ټولنه، کال ۲۰۱۳ء (دويم چاپ)، مخ ۱۶۹،۱۷۰
2 ـ عبدالولي خان، خان، باچا خان او خدائي خدمتگاري، عامر پرنټنګ پريس پېښور، کال ۲۰۲۰ء (دويم چاپ)، مخ ۶۰
3 ـ عبدالولي خان، خان، باچا خان او خدائي خدمتگاري، عامر پرنټنګ پريس پېښور، کال ۲۰۲۰ء (دويم چاپ)، مخ ۷۵
4 ـ عبدلغفار خان (باچا خان)، زما ژوند او جدوجهد، دانش خپروندويه ټولنه، کال ۲۰۱۳ء (دويم چاپ)، مخ ۳۵۶
5ـ عبدلغفار خان (باچا خان)، زما ژوند او جدوجهد، دانش خپروندويه ټولنه، کال ۲۰۱۳ء (دويم چاپ)، مخ ،۳۵۶،۳۵۷
6ـ عبدلغفار خان (باچا خان)، زما ژوند او جدوجهد، دانش خپروندويه ټولنه، کال ۲۰۱۳ء (دويم چاپ)، مخ ۳۵۸
7 . https://en.m.widkipedia.org
8 . Avatans Kumar, Khaksar movement and Muslim Mobilization, Time of India, April 27, 2023
9 ـ عبدالولي خان، خان، باچا خان او خدائي خدمتگاري، عامر پرنټنګ پريس پېښور، کال ۲۰۲۰ء (دويم چاپ)، مخ ۲۰۲
10. Prof. K. Ali, INDO-PAKISTAN, Bukhari Printing Press, Lahore, year 2006 (Revised Edition) , _page 531
11 . Prof. K. Ali, INDO-PAKISTAN, Bukhari Printing Press, Lahore, year 2006 (Revised Edition) , _page 530
12 . J. Hussain, A HISTORY OF THE PEOPLE OF PAKISTAN Towards Independence, Ameena Saiyed, Oxford University Press, Karachi, 1999 (Students Edition), page 374
13 . Prof. K. Ali, INDO-PAKISTAN, Bukhari Printing Press, Lahore, year 2006 (Revised Edition) , _page 533
14. Khalid bin Sayeed PAKISTAN The Formative Phase 1857-1948, Oxford University Press (Second Edition), Page 176
15 _ Prof. K. Ali, INDO-PAKISTAN, Bukhari Printing Press, Lahore, year 2006 (Revised Edition) , _page 534
16 ـ مولانا خانزيب، مخ په مخ مرکه، څائے سول کالونی خار باجوړ، نېټه ۱۲ فروي ۲۰۲۴ء،يولس بجي سحر
17ـ مولانا خانزيب، مخ په مخ مرکه، څائے سول کالونی خار باجوړ، نېټه ۱۲ فروي ۲۰۲۴ء،يولس بجي سحر
18 ـ امير حمزه خان شينواري ، نوي چپي ، نصرت پرنټنګ پريس لاهور، کال ۱۹۹۳ء (دويم چاپ)، مخ ۶۴،۶۵